محمد هارون خپل شعشعي


۱۹ جنوری ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۳۴

۱۰۲- رسمي پوهه : وګورئ پوهه او عمل

۱۰۳- رضاْ/ رضا :

په تصوف او عرفان کي د رضامفهوم دادئ، چي سالک د حق تعالی په هره پرېکړه او هره پېښه، د زړه له کومي خوښ او راضي يي ( وي) . د عارفانو په عقيده، رضا همېشنی وياړ او عزت دئ . د خدای په داد راضي کسان، تل له خلګو مُستغني يي . په ځينو عرفاني آثاروکي د رضا دوه ډولونه بيان سوي دي، چي په حقيقت کي د خدای ( ج) او بنده تر منځ د رضا دوه اړخونه ښيي :

۱- له بنده څخه د الله تعالی رضا : د رضا دا ډول لکه څنګه، چي له نامه يي ښکاري، د پروردګار امر و نهي ته په غاړي ايښووني سره تر لاسه کيږي .

۲- له خدايه د بنده رضا: دا ډول رضا، د بنده د ثواب، نعمت او کرامت اراده ده،چي تل يي د خپل رب په وړاندي لري[۱] .

د قضاْ پېښو او پرېکړو ته په اخلاص او ورين تندي غاړه ايښوول ، لوړ عرفاني مقام دئ . د توکل او رضا تر منځ توپير په دې کي دئ، چي په توکل کي بنده، حق تعالی ته دخپلو چارو واک سپاري؛ او د هغه د خيراو نېکی په هيله ژوند تېريي . په رضا کي بنده، د الله سبحانه و تعالی له هري پرېکړي سره، په مينه او اخلاص هوکره کيي[۲]. کېدای سي دا پرېکړي، په ظاهره دردناکي او نه

منونکي يي . رسېدلى عارف د خپلې باطني پوهي او سوځونکي ميني له مخي، د حق تعالی د هري فيصلي پر سموالي او خير بشپړ ايمان لري؛ او بې هر ډول خواشينی او اندېښني يي منلو ته غاړه ايږدي . له دې امله درضا مقام تر توکل لوړ دئ . ډېر لږ سالکان، د رضا مقام ته د رسېدو وياړ تر لاسه کيي .

د خالق تعالى په داد راضي عارف، علي محمد مخلص، هم په خپله عرفاني شاعرئ کي د رضا د لوړ مقام په باب، خونده ور بيانونه لري . د هغه په يوه غزله کي، رضا د تصوف او عرفان د عامو مقامو په لړ کي، پينځم مقام گڼل سوئ دئ؛ او د رضا خاوند ته د داسي چا په توگه کتل سوي دي، چي په غم او ښادي، ذلت او راحت دواړوکي د خپل ښڅتن له پرېکړي شکوه نه کيي :

د رضأ مقام پنځم دئ راضي خوښ په ښادي، غم دئ

په قضأ د حق راضـي شه په راحت هم له ذ لتـه

مخلص، د معرفت او عرفان د روښاني ډکتورينو له مخي، رضا د قربت مقام بولي؛ او په الهي پرېکړو راضي عارف د قربت د مقام ښڅتن گڼي :

دامنزل د قريبان دئ د قربت ښڅتن حيـران دئ

د موسى٣ پر صف به پاځي دايم خوښ دى له صِلته

مخلص، د رضا لوړي، خو ستونزمني درجي ته رسېدل، د هر سالک کار نه بولي :

په رضأ د حق يگان يگان رضأ دي

په قضأ د حق راضي دي راضيان خوښ

د زماني هر نِمرود او فرعون د الله تعالى د قهر او جلال په وراندي تر بنکي او خاشي سپک دئ . د متکبرو او ځان پالونکو واکمنانو دعِبرتناکي نابودى نکلونه تر اوسه پوري د بشري تاريخ په حافظه کي ژوندي دي . له همدې کبله ، مخلص دغو واقعيتو ته په پاملرني سره، په يوه غزله کي، د بې نيازه او بې پروا پروردگار له پرېکړو سرغړونه، د هر انسان دغم او خواشينی؛ ورانی او تباهى سَوَب ( سبب) گڼي :

چي رضأ د زورور په رضأ نه ږدي

هغه کس په ډېر اندوه، غم مُبتلا شي

د مولا رضأ درياب د سري خس ده

ددرياب د وړاندي سپک خس لا دوا شي

په هر لوري يي جارباسي بې اختياره

بېچاره خس گه پايين گهي بالا شي

**د نورو مالوماتو دپاره وگورئ :** پرهېزگاري، تسليم، توبه، توکل، خوف او رجأ، شُکر، صبر، فقر، قناعت، دونيا، عقباو **مولا .**

**لمنليکونه**

١ رزمجو ٢٦٥ .

٢ دکتر سيد جعفر سجادى١٢٧.

٣ اصل : موسى .

پاته لري